

# د مرحوم

# ډاکټر مولوي

# محمد سعید

# سعید افغاني

۲۹ م تلین په مناسبت ۱۳۹۵

د پروفیسر عبدالله بختاني خدمتګار پیغام

www.masjed.se

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پروفیسر عبدالله بختانی خدمتگار پیغام
## ډاکتر مولوي محمد سعید سعید افغاني ۲۹ م تلین په مناسبت

افغانستان – کابل خیرخانه – دریيمه برخه – خدمتگار کتابخونه.
د ۱۳۹۲ د جدی ۱۵ مه - د ۲۰۱۴ کال د جنوري ۶ مه



زړه ته را ډیر ګران وراره امین الدین سعیدي !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د خپلو ورونو او کورنیو سره د آخرې زمانې له فتنو څخه په امن او امان کې سعید او مسعود و اوسئ.

څو ورځې د مخه، ستاسو خور يې (ښاغلې معراج الدین شمس) په تیلفو ن کې راته وویل چې تاسو د خپل پلار جناب ډاکټر مولوي محمد سعید سعید افغاني ۲۹ م تلین ولمانځئ !

الله پاک تاسو ته خیر او برکت درکړي.

دې زیري سره زما په ذهن کې د ډاکتر مولوي صاحب د خاطرو او ناستو پاستو ډیرې خاطرې را تداعي شوې چې ځینې به يې څرګند کړم.

زما هغه دوست او آشنا د کابل له عربي دارالعلوم څخه فارغ شوی او هملته استاد و.

زه په پښتو ټولنه کې د زیري د ژبنۍ او ادبي اوه نیزې جریدې مسئول چلوونکی وم.

د جریدې د قلمي مرستندویو لیکوالانو په ډله کې سر بیره پر هغه د یاد شوي دارالعلوم ګڼ شمیر شاګردان هم وو.

عبدالهادي هدایت، عبدالوکیل صداقت، محمد یونس خالص، محمد موسی شفیق، محمد ګلاب ننګرهاری، محمد اکبر معتمد شینواری، مطیع الله چمبیلی.
کله چې بیا هغه په ننګرهار کې د هډې د نجم المدارس مدرس او سر مدرس (مدیر) شو. زه د مشرقي ولایت د مطبوعاتو او د ننګرهار ورځپاڼې د مدیریت مرستیال او بیا مسئول مدیر وم.
هلته سعید افغانی يوازې پخپله د « ننګرهار » مجلې او ورځپاڼې ته خپلې لیکنې نه ورکولې، بلکه د مدرسې نور شاګردان يې هم لیکوالۍ او شاعرۍ ته هڅول. او دې کار يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره پرمختګ وکړ چې زما په مشوره، د هډې د مولانا نجم الدین آخوندزاده د ژوندانه او کارنامو په برخه کې د یوې پروژې په توګه د مدرسې ګنو شاګردانو ته مشخصې وظیفې وسپارلې. یعنې د (هډې صاحب) د دقیقې هر اړخیزې بیوګرافۍ د ترتیبولو بنسټ یې کیښود او څارنه یې کوله چې بیا د خدمتګار له خوا د یو کتاب په ظرفیت دا کار پر مخ ولاړ..
زما یادیږي چې مولوی سعید افغانی لس کاله د نجم المدارس مدیر پاته شوی دی. په دې موده کې د مدرسې د تدریسي او اداري چارو د پرمخ بیولو تر څنګ یې هلته د لیکوالۍ ادبي نهضت هم پاللې او سمبال کړی دی. او په همدې حواله زما او د هغه تر منځ ادبي، علمی تولنیز او شخصي روابطو هم ورځ په ورځ د ورورۍ سویې ته ارتقا کړې ده.

کله چې مولوی سعید افغانی د لا لوړو زده کړو لپاره مصر ته ولاړ، هلته یې د الأزهر په پوهنتون کې د تحصیلي



مشغولیت سره قلمي کارونو ته هم اړم شو چې په دې لړ کې په عربي ژبه د خواجه عبدالله انصاري او سید جمال الدین افغان په باره کې د دوو څیړنیزو کتابونو لیکل او چاپول لوړ ارزښت او درنښت لري.
او د هغه په دې مهم کار ،د هغه د یو دوست او ورور په توګه زه هم نازیدلی یم او کله چې وطن ته راغی بیا زما په غوښتنه یې دوهم یاد شوی کتاب یې په پښتو وژباړده او بیا چاپ شو.
هغه بیا په څیړنیزو سیمینارونو کې فعاله برخه اخستله او ډیر ځله به په ډیرو مسائلو کې زمونږ دواړو یو شان دریځ و.
د علمي فعالیتونو او لیکنو ترڅنګ هغه به تل د وطن او ملت مسائلو ته پوره توجه کوله.
هغه د ژوندانه په وروستیو مرحلو کې هم د شخصي، هم د ملي او وطني منازعاتو د حل لپاره «سوله او تفاهم» مهم ضرورت باله. ددې نظر د خپرولو لپاره یې هم په شفاهي توګه او هم د مقالو په بڼه ډیر تبلیغ کاوه او هڅه یې کوله چې خپله نظریه هر چاته ورسوي. ما یې هم ددې نظر تایید کاوه.
او بې سببه نه ده چې ما دهغه د بیوګرافۍ رساله چې ما لیکلې وه « د سولې او تفاهم مبلغ دوکتور سعید افغانی» نوملې ده. ځکه چې زه پخپله اصولاً او اساساً یوازې د خپلو خلکو او هیواد په کچه نه بلکه په انساني تولنو کې د ټول انسانیت لپاره په ټولو ذات البیني پرابلمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د (عدم تشدد) ملاتړ او لار روی یم.
ما دجناب فخر افغان خان عبدالغفار خان بابا په لاربښودنه د خدایي خدمتګارئ نظریه منلې ده. ددې نظریې د عملي کولو په لاره کې باید خدایي خدمتکار په عدم تشدد وجلیږي او یو انسان باید پرته له کومې طمعې د بل انسان خدمت وکړي...

ګرانه سعیدي صاحب !

زما دوست، آشنا، ملګری او ورورو ستاسو پلار دې الله پاک وبښي،

د هغه را سره ډیرې خوږې خاطرې دي، څو بیلګې مې یې درته ولیکلې ،

اوس زړه مې غواړي چه دعدم تشدد دانساني احساس په ارتباط خپله یوه بله خاطره درته ولیکم:

که دې په یاد وي زه څوکاله دمخه، هملته،جرمني ته،ستاسو د اوسیدو ښار (کولن) ته،په جرمني کښې « دافغانستان دفرهنګي ودې ټولنې» په بلنه، دوه کاله سرپه سر، دهغوی له خوا جوړو شوو سیمینارونو ته بلل شوی وم.

په هماغه مهال ترسیمینار وروسته، بیا دښاغلي جمال ناصر پرهیز په بلنه دیو څو ورځو لپاره د « اوګسبورګ ښار» ته هم تللی وم.

له هغې خوا د نوموړي جمال ناصر او دهغه د ورور امیر کروړ پرهیز په ملګرتیا د هغوي په موټر کښې بیرته در روان وم.

په لاره کښي یو څه ستړی هم شوم او لږ څه د کوزیدو طبیعي ضرورت هم محسوس شو.

یو کافي سره کښیوتو.

آسمان شین،هوا معتدله او لمر دخپلو وړانګو سره د ملایمې تودوخې مهرباني هم کوله.

دکافي سره جوخته یوه لویه کرونده وه.

ماوې: دغسې به تیر شوو.

په کرونده کښې دشړشمو د بوټو غوټۍ د پنځیدلو په حال کښې وې،

او زمونږ دبختان کلی،ان زمونږ پخپلو وړو کوړکیو پټیو کښې داسې غوټۍ یې را یادولې هوا نوراني او معتدله وه.

دکروندې په شاو خوا سرک باندې مو « ننګرهاری چکر» لګاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخامخ خوا څخه یو تن، چه ډیر عادي کالي یې په غاړه وو، خپل یو غټ سپي سره راروان و.

زه له وړوکتوب څخه،له « مار » او « سپي » څخه ډیر ډارېږم.

دسپي دپړي جلب دهغه د خاوند په لاس کښي و. مګر سپی ډیر غټ و،نو ځان مې د سرک په دې بله غاړه کړ.

سړي سلام واچاوه او د روغبړ تمایل یې وښود.

درې واړه ودریدو لاسونه مو سره ورکړل.

امیر کروړ په جرمني ژبه ډیر ښه پوهیږي.

دهغه دخبرو له ترجمي څخه زه دومره پوه شوم چه زما په باب یې وویل: « دی دافغانستان لوی لیکوال، شاعر او دانشمند دي»

دهغه سړي توجه ماته ډیره شوه.

دسپي واګی یې کلک نیولی و. ماته را نژدې شوه. ویې ویل:

زه ستاسو په لیدو ډیر خوشحاله شوم سمدستي ځم زما میرمن راته منتظره ده.

هغه روان شو سپي یې لکۍ خوزوله مونږ خپلو کښې سره وویل:

کور به یې چیرته لیرې وي میرمن یی لار څاري وو.

مونږ د کروندې چار چاپیره چکر ولګاوه. چه بیرته د کافي مخې ته ورسیدو وموليدل چه له لوی واټ څخه، دموټرله خوا څخه میره او میرمن زمونږ خواته راځي.

تر روغبړ وروسته سړي وویل:

دا زما میرمن ده.په موټر کښی ناسته وه.(لږموسکی شو)اوس می سپی په موټر کښی کښیناوه

او دامی راوستله چه تاسو سره معرفی شی.

هغه د جرمنی دیو ښارنوم واخیست او وایی ویل:

مونږ دواړو دهماغه ښار د پوهنتون دحقوقو د پوهنځی استادان یو..

مونږ دری واړو تعارف امیر کروړ ورته وکړ.

هغه زما په اوږو لاس کښیښود. ویی ویل: اجازه ده چه زه له تاسو څخه یوه پوښتنه وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: مهربانی وکړه!

هغه: ولی ستاسو په هیواد کښی افغانان انسانان وژنی؟

ما ستاسو دغه پوښتنه سمه نه ده:زما بدعادت دادی چه زه دغلطو پوښتنو ځواب نه ورکوم.

هغه نو لطفآ تاسو زما د پوښتنی غلطی راسمه کړی!

ما: که داسی وای:ولی انسانان انسانان وژنی؟ نوما به خپله رایه څرګنه کړه وای.

هغه: ما خپله هغه پوښتنه بیرته واخیستله او همداسی چه تاسو و ویل زه درنه پوښتنه کوم:

ولی انسانان انسانان وژنی؟

ما: مهربانی وکړی تاسو دواړه میره او میرمین ماته غوږ شی!

دنن څخه زیات وکم دوه زره کلونه دمخه،دفلسطین په (ناصره) نومی کلی کښی،یو ځوان راپا څید خپلو خلکو ته یی سمه لاربنودله.

هغه به ویل: څوک مه وژنی! څوک مه وهی ان تردی که چا په څپیړه ووهلی هم مه په قاریږی او دخپل مخ دابله خوا ورته واړوی چه...

تاسو دهغه انسان نوم پیژنی؟

هغه : هو !عیسی

ما : ښه،تر هغه زیات وکم شپږ سوه کاله ورسته،دعربستان دشګلن هیواد دمکی په ښارکښی یو ځوان دخلکولاربنود شو.هغه به هرچاته ویل:

څه چه دی پرځان پیرزوی هغه پرنورو هم پیرزو کړه او څه چه دی پرځان پیرزو نه وی پربل یی هم مه پیروز کوه!

تاسو ددی کس نوم پیژنی ؟

هغوی دواړو په یو غږ

هو ! محمد

اوس زه تاسو دواړه نه پوښتنه کوم چه نور خونور،که یوازی ددغو دواړو سترو انسانانو یوازی همدا یوه یوه خبره ، ددی زمانی انسانان په زړه ومنی او عمل پری وکړی، بیا به انسانان انسانان ووژنی؟

دواړو په یو څه ملایم ژړه غونی غږ: نه نه هیڅکله نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

میره زما لاسونه ښکل کړل میرمن یی هم زما په لاسونو پریو تله لاسونه یی ښکلول او اوښکی یی پری څڅیدلی.
په هغه رحمانی انسانی فضا کښی،پنځه واړه ډوب شوو چوپه چوپتیا خپره وه او یوبل ته مو دانسانی مینی او محبت په نظر کتل
لږ شیبی ورسته هغه شخص و ویل
زړه مونه کیږی چه درڅخه بیل شو.خو د خپل کور دلیریوالی اوضروری کارونو دلرلو لامله معذرت واړندی کوو او رخصت غواړو.
دهغه جنتی هوا او روحانی فضا دپرتم په درنښت کښی،د دواړو خواوو څخه خبره چور هیره وه چه یو تربله آدرسونه او دتیلفونونو نومری یا ویزیت کارتونه ورکړو یا و اخلو !
گرانه ډاکټر سعیدی !
که کولی شی لطفآ تاسو او د ډاکټر مولو ی سعید افغانی صاحب دتلین مراسمو ښاغلی برخه وال، دانسانی کرامت د وروروالی،مینی او محبت زما دغه پیغام هملته،نور انسانانوافغان، جرمنیانو او نورو ته زما له سلامونو او نیکی هیلو سره ورسرویی!
خلکو ته ووایی چه دبشریت دتمدن دساتلو او لاپنځولولپاره دسولی،تفاهم او عدم تشددپربنادی استعمار، استثمار،استعباد او استحمار دودونه او ورواجونه دی پریږدی او دانسانی وروری برابری پیرزوینی ، مینی، محبت او همکاری لاری ولټوی او خپلی یی کړی
کیدی شی چه تاسو ونه وایی بل څوک به راته ووایی:
ته ساده یی! ددی خبریو زمانه تیره ده
زه به ورته ووایم، دتاریخ دټولومرحلو په نسبت ،همدا اوس ددغو خبرو ضرورت زیات دی ځکه چه اوس دتشدد وسایل ترهربل وخت هم زیات شوی ، هم عام شوی،هم خطرناک شوی دی. نو همدا نن یی باید مخنیو وشی .
همدا نن اوترسبا پوری نورهم ناوخته کیږی
زه یی هم نن ډیر ضرور بولم مهربانی وکړی اوسبا ته یی مه پریږدی!
که څه هم زه دعلامه اقبال خبره :
غمه ام از زخمه بی پرواستم
من نوای شاعر فرداستم
اود سید حسن خان حسن شپون په وینا:
زه دنن ورځی شاعر نه یم پو هیږم
زما نه رسوی غږ ترغوږه پوری
و ما توفیقی الابالله علیه تو کلت والیه انیب
والعل الله یحدث بعد ذالک امرآ
والسلام علی من اتبع الهدی

**ستاسو خدمتګار**
**پروفیسر عبدالله بختانی**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**